# په اسلامي شريعت کې د ښځو حقوق

پوهنمل پاځون مياخېل، شيخ زايد پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، د حقوقو څانگه.
بريښناليک: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**لنډيز**

دا ويلای شو، په هر چا چې د بشر اطلاق کيږي، اسلام يې د حقوقو يادونه کړې ده، خاصتا د ښځو د حقوقو په باره کې د قرآنکريم يو ځانگړی سورت د سورة النساء په نوم راغلی دی. په اسلام کی د ښځې حيثيت او مقام په ډيره لوړه پيمانه منل شوی دی، لکه د ښځې معنوي حقوق چې د اسلام په مبارک دين کې د ښځې لپاره منل شوي دي. په دې حقوقو کې د ښوونې (تعليم) حقوق، مدني حقوق، سياسي حقوق، د رايې او ازادۍ حق او داسې نور حقوق شامل دي. د دې څېړنې ارزښت لرونکی اړخ دا دی، چې د اسلامي شريعت د نصوصو په رڼا کې د ښځو د حقوقو وضاحت وړاندې کوي او د ښځو په هر راز حقوقو رڼا اچوي، چې د ښځو لپاره د شريعت له مخې هر ورکړل شوی حق د مسلمانانو د لومړني دور په بېلگو روښانه شوی دی. همدارنگه د ټولنيز حيثيت له مخې د خور، لور، مور او مېرمنې په هر حق بحث شوی دی. دا څېړنې د بېلابېلو موخو د ترلاسه کولو په غرض ترسره شوې ده، چې په لړ کې يې په اسلامي شريعت کې د ښځو له حقوقو څخه خبرېدل، ښځو ته د ژوند د بېلابېلو مواردو په برخه کې د ځانگړو حقوقو په ورکړه پوهېدل او د ميراث او تجارت د حقوقو په اړه د شريعت په رڼا کې معلومات وړاندې کول د دې څېړنې مهمې موخې دي. هره څېړنه د ترسراوي لپاره يوه لاره لري، چې د دې څېړنې لپاره کتابتوني ډول او تشريحي مېتود غوره دی. همدا راز د څېړنې ژبه معياري ژبه ټاکل شوې او د ليکنې ټول اصول د ليکنې په لړ کې د پام وړ گرځول شوي دي. د ماخذښودنې په برخه کې له APA سيستم څخه گټه اخيستل شوې ده او د څېړنې په پای کې د ماخذونو بشپړ معلومات وړاندې شوي دي.

**کليدي کلمې:** د ښځو شرعي حقوق، د ښځو ټولنيز حقوق، د ښځو سياسي حقوق، د ښځو اوسنی حالت، د حکومتونو ابتکارات.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم ـ الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام علي سيد الانبياء والمرسلين محمد و علي اله و اصحابه اجمعين. اما بعد!**

اسلامي شريعت د نړۍ پرمخ يوازينی جامع او مؤجه قانون دی، چې د ټولو انسانانو لپاره د هغوی د فطرت مطابق لارښوونې او اوامر لري. ښځه منحيث انسان هغه بحث دی، چې د اسلامي شريعت په رڼا کې د ځانگړو او خپلو پرځای حقوقو څښتنه ده. د اسلام په مبارک دين کې د ښځې هر حيثيت که لور ده، خور ده، مور ده او مېرمن ده، د ځانگړي پام وړ گرځول شوی او ورته لازم حقوق په گوته شوي دي.

د ښځو لپاره چې د اسلام په مبارک دین کې کوم حقوق ټاکل شوي دي، هغه د ټولنیز ژوند له برخې نیولې د اقتصاد او قانون جوړونې تر برخو پورې ټول موارد رانغاړي. په ټولنیز ژوند کې ښځه د لور، خور، مور او مېرمنې په توګه د حقه حقوقو لرونکې ده. دغه راز ښځې ته په اسلامي شریعت کې د اقتصاد په برخه کې د آزادۍ حق ورکړل شوی دی، یعنې ښځه کولای شي، چې خپل مال او شته ولري او د خپلو تجارتونو بندوبست وکړي. دغه راز په جګړو کې هم د ښځو ونډه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مبارک دور له بېلګو سره په خورا روښانه شکل په ډاګه شوې ده.

د انساني ټولنې مختلف عرفونه او رواجونه هم یوه له هغو موضوعاتو څخه ده، چې د دې څېړنې په لړ کې پرې بحث شوی دی. د نورو انساني ټولنو په څېر زموږ افغاني ټولنه هم د یو شمېر ناسمو او ناروا دودونو لرونکې ده، لکه په بدو کې د نجلۍ ورکول، د خاروي په څېر د نجلۍ خرڅول او د کورنۍ په چوکاټ کې د خواښې او خسر له خوا پر مېرمنې ظلمونه، دا ټول هغه موارد دي، چې د ناروا دودونو په څېر زموږ په ټولنه کې عام دي. د دغو دودونو د تقبیح ترڅنګ د اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په فرمانونو د دغو دودونو د لغوې مطالب د دې څېړنې پام وړ موضوعات دي.

**د څېړنې ارزښت**

دا څېړنه د خپلې محتوا له مخې چې په اسلامي شریعت د ښځو د حقوقو موضوع رانغاړي، له دې اړخه له ځانګړي ارزښت څخه برخمنه ده، چې د څېړنې په اوږدو کې د ښځو هر راز حقوق راسپړل شوي او د اسلامي شریعت په رڼا کې د ښځو ټول حقه حقوق تر بحث لاندې نیول شوي دي.

**د څېړنې موخې**

۱ ـ د دې څېړنې لومړۍ موخه په دې پوهېدل دي، چې په اسلامي شریعت کې د ښځو لپاره کوم ډول حقوق ورکړل شوي، ترڅو ښځې ترېنه د شریعت په چوکاټ کې استفاده وکړي.

۲ ـ د دې څېړنې بله موخه دا ده چې د دولت منسوبین په دې اګاه کړل شي، چې ښځو ته په اسلامي شریعت د میراث حق، د تجارت حق او په ټولنیز او سیاسي ژوند کې د برخې اخیستو حق ورکړل شوی دی، ترڅو د هغو حمایت وکړي او د حق ورکړې لپاره یې زمینه سازي وکړي.

۳ ـ بله موخه دا ده، که چېرې یوې ښځې ته خپل شرعي حق ورنه کړل شي، نو دولت مکلف دی، چې له ظالم څخه د ښځې حقوق واخلي او ښځې ته یې ورکړي.

۴ ـ بله موخه دا ده، زموږ په ټولنه کې زیاتره خلک ښځو ته میراث نه ورکوي، په داسې حال کې چې دا د ښځو شرعي حق دی، نو دولت مکلف دی، چې د ښځو د شکایت په صورت کې رسیده ګي وکړي او ښځو ته خپل شرعي حق ورکړي.

۵ـ وروستۍ موخه خلکو ته د اسلامي شریعت مطابق د ښځو حقوق بیانول دي.

**د لیکنې کړنلاره**

دغه څېړنه کتابتوني ده او د څېړنې او وضاحت لپاره له بېلابېلو علمي کتابونو، علمي لیکنو، په واقعیتونو او حقایقو ولاړو منابعو او نورو علمي رسالو څخه استفاده شوې ده او د لیکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي.

**لومړی مبحث: په اسلام کې په دیني او مذهبي چارو کې د ښځو حقوق**

د ایمان او عمل له لحاظه ښځه او نارینه یو برابر دي. د اسلام دین له ایمان او عمل څخه عبارت دی، د ایمان او عمل صالح په کړنو کې نارینه او ښځې برابر او په خپلو کې هېڅ کوم توپیر نه لري. دا د قرآنکریم څرګند بیان او اعلان دی، که نارینه وي او که ښځینه وي، چې له ایمان سره نېک عمل کوي، دنیا کې الله تعالی ورته ښکلی او صفا ژوند ورکوي او په آخرت کې هم ورته لوی ثوب او اجر ورکوي، د چا چې څه قسم عمل وي، د هغه مطابق اجر ورته رسېږي. الله تعالي په خپل مبارک کتاب کې فرمایې: [ِنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ] (سورت النحل: آیت۹۷). ژباړه: نارینه او ښځینه چې نېک عمل وکړي او با ایمانه هم وې، نو په دنیا کې به یې په پاکیزه ژوند ونازوو او په آخرت کې به هغوی ته د هغوی له عمل نه هم بهتر اجر ورکړو (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله،۱۴۱۴، ج۱، ۱۵۷۴).

د دغو ټولو نصوصو پایله دا شوه، چې الله تعالی ته د ایمان او صالح عمل په اعتبار ښحه او نر کوم توپیر نه لري او د ثمراتو او پایلو له حیثه دواړه یو برابر دي. په دنیا کې نر او ښځه دواړه د طیبه حیات (پاکیزه ژوند) او په آخرت کې له اجر او ثواب څخه برخمن دي. د هېچا عمل نه ضایع کېږي او نه هم څه کمی په کې راځي، څکه چې د خدای پاک په نزد دواړه (نر او ښځه) یو له بل څخه دي، یعنې هر نارینه د ښځې له ګېډې څخه پیدا دی او هره ښځه د نارینه د ملا څخه پیدا شوې ده، د دواړو یو له بله سره ډېر ژور تړاو دی. مطلب دا څرنګه چې نارینه ته د اعمالو اجر حاصلېږي، دغه شان ښځې ته هم داعمالو اجر ورسېږي (دادګر، ۱۳۹۲هـ ش).

**لومړی مطلب: تر ټولو مخکې پیغمبر (ص) باندې ایمان ښځې راوړی**

د سیرت له کتابونو څخه ثابته شوې ده، چې د لومړي ځل لپاره د پیغمبر (ص) د پیغمبرۍ تصدیق د ښځې له خوا شوی او په پیغمبر (ص) باندې د اول ایمان راوړو شرف هم ښځې ته حاصل دی، چې هغه ام المومنین حضرت خدیجه رضي الله عنها وه؛ اګر که په نارینه وو کې اول ایمان ابو بکر صدیق رضي الله عنه راوړی دی. په سیرت النبي کې راغلي دي، پیغمبر (ص) د وحیې او رسالت پیغام تر ټولو مخکې

خدیجې (رض) ته واوراوه او هغې له اورېدلو سره سم پرې ایمان راوړ او د اسلام په مبارک دین مشرفه شوه، نو په ښځو او نارینه‌وو کې د لومړي مؤمن کیدو فضیلت او امتیاز ښځې ته ورپه برخه شوی او هغه خدیجة الکبری رضي الله عنها ده، چې د دغې خبرې شاهدي په خپله رسول الله (ص) داسې بیانوي: کیسه داسې وه، چې یو ځل د خدیجې رضي الله عنها تر وفات وروسته د هغې لور (هاله) د پیغمبر (ص) لیدلو ته راغله، د قانون او اسلامي دستور مطابق هغې د اجازې غوښتو په خاطر له باندې غږ وکړ، د هغې آواز د خپلې مور خدیجې رضي الله عنها په شان و، د هغې آواز اوریدو سره پیغمبر (ص) ته خدیجه ورپه یاد شوه، په دغه وخت کې په پیغمبر (ص) باندې یو کیفیت راغی، په ژړغوني او اثرناکه الفاظو یې وویل: هاله یې! حضرت عائشه رضي الله عنها همدلته ناسته وه، دا چې په هغې باندې دا سخته تمامیده، چې د هغې نه علاوه دې بله بي بي پیغمبر(ص) ته دومره ګرانه وي، نو بې اختیاره یې له خولې نه ووتل، چې ته خو وفات شوې ښځې هم یادوې، هغه خو زړه وه، خدای پاک خو تاته له هغې غوره او بهتره بیبیانې درکړې دي. پیغمبر (ص) ورته په ځواب کې وویل: نه! بالکل داسې نه ده، په هغه وخت کې چې خلکو زه دروغجن بللم، هغې زما تصدیق وکړ، چې کله خلک کافر وو، هغې اسلام راوړ، چې کله زما څوک مددګار نه و، هغې زما مرسته وکړه (فضلي، ۲۰۱۵م).

**دویم مطلب: د الله (ج) په لار کې لومړۍ شهیده ښځه وه**

د الله (ج) په لار کې د شهادت لومړنی شرف هم مسلمانې ښځې ته حاصل دی، چې هغه حضرت سمیه رضي الله عنها وه. تفصیل یې داسې دی: په مکه مکرمه کې چې کله د دین د خپرولو لړۍ پیل شوه، نو حضرت سمیه رضي الله عنها، د هغې خاوند حضرت یاسر (رض) او د هغې زوی حضرت عمار (رض) درې واړه په اسلام مشرف شول او د بې رحمه کافرانو له خوا ورباندې د ظلمونو او تشدد لړۍ شروع شوه، تر دې چې حضرت سمیې رضي الله عنها ته به یې د اوسپنې زغره ور اغوستې وه، په غرمه کې به یې ډېر ګرم لمر ته درولې وه. نبي پاک (ص) به چې کله د هغې تر څنګ تېریده او هغه به یې په هغه حال کې ولیدله، دا چې د کافرانو غلبه وه او د اسلام ابتدایي مرحله وه، نو هغې ته به یې تسلي ورکوله، چې (صبرآ یا آل یاسر فان موعدکم الجنة)، ژباړه: د یاسر خاندانه صبر وکړئ، د دې مظالمو په بدل کې د تاسو لپاره جنت دی. یوه شپه کور ته راغله، ابو جهل کنځلې ورته شروع کړې، غصه یې زیاتیده زیاتېده، تر دې چې هغه ظالم او بې رحمه په برچې ووهله او په شهادت یې ورسوله، نو دا د الله (ج) په لار کې د اسلام تر ټولو لومړۍ شهیده ده(خالد، ۲۰۲۱م).

**درېیم مطلب: د لمانځه اداکولو شرف هم په لومړي ځل ښځې ته حاصل دی**

په اسلام کې له رسول الله (ص) سره یوځای د اسلام د لومړي رکن یعنې لمانځه اداکولو د لومړیتوب شرف هم ښځې ته ورپه برخه شوی، چې هغه هم حضرت خدیجة الکبری رضي الله عنها وه. له همدې

مخې څرنګه چې د ايمان مسئله تر ټولو مخکې خديجةالکبری رضي الله عنها ته وړاندې شوه او هغې بغير له شک او تردده د پيغمبر (ص) په رسالت او حقانيت يقين کړی؛ دغه شان چې کله د لمونځ د فرضيت او اداکولو موقع راغله، نو خديجة الکبری رضي الله عنها ته پکې لومړيتوب حاصل دی. د رسالت له زمانې وروسته هم د ښځو د ديني حيثيت معيار دومره لوړ و، چې ځينو لويو صحابه کرامو به ځينو ميرمنو ته مراجعه کوله، د هغوی خبرې به يې منلې او د هغوی فيصلو ته به يې غاړه ايښوده(فضلي،۲۰۱۵م).

**دويم مبحث: په اسلام کې د ښځو د تعليم او تربيې حقوق**

اسلام د عدل او انصاف دين دی، په دې هکله رسول الله (ص) فرمايلي دي:[**تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَالفَرَائِضَ وَعَلِّمُوا النَّاسَ فَإِنِّي مَقْبُوضٌ**]. ژباړه: د قرآنکريم او فرآئضو علم حاصل کړئ او خلکو ته يې هم وښيئ، ځکه چې زه له دنيا نه تلونکی يم، يعني له دنيا څخه تلونکی يم (الترمذي، ت ۲۷۹هـ).

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت کوي، چې رسول الله (ص) ماته وفرمايل[**تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ، وَتَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهَا النَّاسَ , وَتَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ , فَإِنِّي امْرُؤٌ مَقْبُوضٌ** ]. ژباړه: علم زده کړئ او خلکو ته يې ورو‌ښيئ، فرائض زده کړئ او خلکو ته يې وروښيئ، د قران مجيد زده‌کړه وکړئ او خلکو ته يې وروښيئ، ځکه چې زه تلونکی يم (دارالقطنی، ۳۸۵هـ).

په دغه ارشاد مبارک کې لومړی د مطلق علم د تحصيل حکم دی، بيا د فرايضو د تحصيل، بيا د قرآن پاک د زده‌کړې هدايت دی، ورسره يې دا هم وفرمايل، چې خپله يې زده کړئ، بيا يې نورو ته هم وروښيئ، چې په دغه هدايت کې د ښځې او نر هيڅ کوم تخصيص نشته، نه نسلي تخصيص شته او نه هم طبقاتي تخصيص؛ بلکه د امت ټولو افرادو ته دا حکم عام دی، چې تر کله پورې د رسالت روښانه لمر حضور درلود، ښځې او نر، آزاد او غلام، غټ او کوچني يو شان د نبوت فيوضات او انوار حسب حيثيت او استعداد حاصلول. هر يو بېله کوم خنډه خپله کوچنۍ او لويه مسئله د حضور (ص) په خدمت کې وړاندې کوله او فتوا او احکام يې تر لاسه کول. دلته نه د آزادۍ او غلامۍ خبره وه، نه د فقر او مالدارۍ، نه هم د ښځيتوب او نارينه‌توب. څرنګه چې نارينه وو ته د رسول الله (ص) په دربار کې بېله خنډه د دين د زده کړې او په احکامو د پوهې موقع حاصله وه، دغه شان ښځو ته هم بې مزاحمته دغه سعادت ورپه برخه و. په بخاري شريف کې د حضرت عائشې رضي الله عنها روايت دی[**نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الأَنْصَارِ لَمْ يَمْنَعْهُنَّ الحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ**]. ژباړه: د انصارو ښځې ډېرې غوره دي، ځکه د دين په زده‌کړه کې حياء د هغوی مانع ونه ګرځېده (بخاری، ۱۹۴هـ ق).

د رسالت په دوره کې هم په ښځو د نارينه‌و په شان د جمعې او جماعت لمونځ واجب نه وو؛ ليکن صراحتاً ممانعت هم نه و، د جمعې په لمانځه او جماعت کې يې برخه اخيسته، د نبي پاک (ص) له خطبو او وعظونو يې استفاده کوله او په هره هفته کې به چې د رامنځته شوو حالاتو او د الهي وحيې په هکله پيغمبر (ص) څه وفرمايل، له هغه نه به باخبره وې او همدارنګه به د حالاتو د بدليدو په باره کې وړاندې يا وروسته په مسجد نبوي کې په کومو خبرو باندې بحث شوی و، له هغو نه به هم بې خبره نه وې. همدا هغه لامل و، چې هغوی يې د مسجد تګ ته ترغيبولې، لکه څرنګه چې نارينه‌و دا تکل درلود، چې د پيغمبر (ص) ډېر زيات ارشادات ترلاسه کړي، دغه شان له ځينو ښځو سره هم دغه شوق او جذبه وه (شيراز آغا، ۱۴۳۵).

د حضرت عائشې رضي الله عنها په باره کې ترمذي شريف کې د ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت دی:[مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلاَّ وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا]. ژباړه: د رسول الله (ص) اصحابو ته به چې کومه مسئله سخته شوه، له حضرت عائشې رضي الله عنها نه به يې پوښتنه وکړه، له هغې سره به يې حل ضرور پيدا شو (الترمذي، ت ۲۷۹هـ).

د حضرت عائشې رضي الله عنها په هکله د امام زهري روايت دی: [**كَانَتْ عَائِشَةُ أَعْلَمَ النَّاسِ،يَسْأَلُهَا الأَكَابِرُ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**]. ژباړه: حضرت عائشه رضي الله عنها تر ټولو خلکو ډېره پوهه وه، لويو صحابه کرامو به هغې نه د مسائلو په هکله پوښتنې کولې (الزهري، ۲۰۰۶م).

د حضرت عروه بن زبير رضي الله عنه روايت دی: [**مَا رَأَيْتُ امْرَأَةً كَانَتْ أَعْلَمَ بِطِبٍّ، وَلَا نَفَقَةٍ، وَلَا بِشِعْرٍ مِنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها**]. ژباړه: ما هېڅوک داسې ونه ليدل چې په قرآن کريم، فرايضو، حلال، حرام، فقه، شعر، طب، تاريخ عرب او د عربو د نسبونو متعلق له عائشې څخه زيات معلومات ولري (سليمان بن احمد، ت ۳۶۰هـ).

حضرت عائشې رضي الله عنها چې په دينيات کې څومره علم درلود، هغه له دې سوال او ځواب نه معلومېږي. په يو حديث کې راغلي دي، چې رسول الله (ص) به په ناسته نفل لمونځ کاوه، يو سړي له حضرت عائشې رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه، چې هغه ولې په ناسته لمونځ کوي؟ حضرت عائشې رضي الله عنها ځواب کې ورته وويل[حِينَ حَطَمَهُ النَّاسُ].ژباړه: دا هغه زمانه وه، چې خلکو هغه کمزوری کړی و (سنن أبي داود، ت ۲۷۴هـ).

د دې پوښتنې په ځواب کې چې له هجرت نه پس د دوه رکاتونو پر ځای څلور رکاته شول او د ماښام په لمانځه کې دا زياتوالی ولې رانغی؟ هغې وفرمايل:[فَإِنَّهَا وِتْرُ النَّهَارِ]. ژباړه: د ماښام لمونځ د ورځې له وترو څخه دی، په دې خاطر پکې زياتوالی رانغی (ابن حنبل، ۱۴۱۶هـ).

له حضرت عائشې بي بي نه چې کله پوښتنه وشوه، چې د سهار وخت خو ډېر د اطمينان وخت دی، له دوه رکاتو څخه زيات په کې په کار و؟ هغې وفرمايل: بلې! د سهار په لمانځه کې د قرائت اوږدوالی شته، په دې خاطر زيادت پکې رانغی. د جاهليت په زمانه کې هم خلکو د عاشورا روژه نيوله او په اسلام کې هم د رمضان تر فرض کيدو مخکې د عاشورا روژه نيول واجب و، عربو داسې ولې کول؟ دغه خبره په يوه حديث کې هم وضاحت نه لري؛ ليکن حضرت عائشې بي بي د دې وجه داسې بيان کړې:[كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُوراَءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الكَعْبَةُ]. ژباړه:عربو تر اسلام مخکې د عاشورا روژه له دې امله نيوله، چې په دغه ورځ به يې کعبې شريفې ته غلاف (پوښ) وراغوسته (بخاري، ۱۹۴هـ ق).

په امهات المؤمنين کې د حضرت عائشې بي بي په شان حضرت ام سلمه رضي الله عنها هم د فتوا ورکولو مالکه وه، مروان بن مالک به له هغې نه مسائل زده کول او ويل به يې:[كَيْفَ نُسْأَلُ، وَفِينَا أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ]. ژباړه: موږ ولې بل چا نه پوښتنه وکړو، په داسې حال کې چې د رسول الله (ص) بيبيانې موجودې دي(النسائي، ۲۰۱۱م).

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د صحابه کرامو په ډله کې د رئيس المفسرين حيثيت درلود او حضرت ابو هريره رضي الله عنه د حديثو په يادولو کې ډېر لوړ مقام لاره، دوی هم حضرت ام سلمې رضي الله عنها ته په ځينو مسئلو کې رجوع کړې ده(الترمذي، ت ۲۷۹هـ).

په هر حال د ديني تعليم او تربيې له حيثه د صحابياتو ډېر اوچت مقام و او هغوی کې د سختو مسائلو د فتوا وړ ښځو هم وجود درلود، چې لوی صحابه او اوچتو اشخاصو به ورته مراجعه کوله او دا ټول د اسلام د مقدس دين فيوضات وو. حضرت عايشې رضي الله عنها ته خبر ورسيد، چې حضرت ابو هريره (رض) روايت کوي، کله چې ښځه د لمانځه مخې ته تېره شي، نو لمونځ فاسديږي، حضرت عايشې دا روايت د ترديد وړ وګاڼه او ويې ويل: زه د کوټې په مينځ کې وم او رسول الله (ص) به لمونځ کاوه. همدارنګه کله چې دا معلومه شوه، چې حضرت عبدالله بن عمر (رض) وايي، چې د خپلوانو په ژړاګانو مړي ته غذاب ورکول کيږي، نو حضرت عايشې بي بي يې ترديد وکړ او ويې ويل: چې له حضرت عبدالله څخه هېر شوي دي.

**لومړی مطلب: حضرت صفيه (رض) د فقې ماهره**

د حضرت محمد (ص) بله مبارکه مېرمن حضرت صفيه د اسلامي فقې په علم کې پوره برلاسې وه. د امام نووي (رح) په وينا حضرت صفيې (رض) په خپله دوره کې په علم او ځيرکتيا کې ستر مقام درلود(نايک، ۱۳۸۷).

**دویم مطلب: حضرت فاطمه بنت قیس په دلایلو کې ماهره**

فاطمې بنت قیس (رض) په فقه کې ښه پوهه درلوده، نوموړې په خبرو او دلایلو وړاندې کولو کې ډېره ماهره وه. یوه ورځ یې په یوه علمي موضوع کې له حضرت عمر (رض) او حضرت عایشې (رض) سره تړوله ورځ بحث وکړ او هغوی دواړو یې دلایل غلط ثابت نه کړل. د امام نووي (رح) په وینا، فاطمه (رض) په لومړنیو هجرت‌کوونکو کې وه او په ډېرو علومو برلاسې وه(نیشابوری، ۱۳۴۳هـ ق).

**درېیم مطلب: ام سلیم رضي الله عنها د دعوت او تبلیغ ماهره**

د رسول الله (ص) د ځانګړي خادم حضرت انس (رض) د مور ام سلیم له حضرت محمد (ص) سره ډېره زیاته مینه او محبت لرل. هغې خپل زوی حضرت انس (رض) د حضرت محمد (ص) خدمت ته وقف کړی و، په دې وجه ام سلیم (رض) ته د حضرت محمد (ص) په کور کې د زیات وخت تېرولو موقع په لاس ورغلې وه، له همدې مخې هغې هغه وخت د علم په زده کړه کې تېراوه. د نبي (ص) د مجلس او ناستې له برکته د ام سلیم (رض) په خبرو کې زیات اثر پیدا شوی و، زړه‌منونکې خبرې به یې کولې او هغې به له دې اثر څخه د دعوت او تبلیغ لپاره کار اخسته(نیشابوری، ۱۳۴۳هـ ق).

**څلورم مطلب: سیده نفیسه (رح) د امام شافعي استاده، د حضرت حسن (رض) لمسۍ**

سیده نفیسه د حضرت حسن (رض) لمسۍ وه، حسن د زید، زید د حضرت حسن (رض)، حضرت حسن (رض) د حضرت علي (رض) زوی و. سیده نفیسه د حضرت امام جعفر لور او د اسحاق مېرمن وه. په درېیمه هجري پېړۍ کې د امام شافعي همعصره وه او امام صاحب به زیات وخت د سیدې (رض) خدمت ته حاضریده، له هغې سره به یې په علمي مسایلو خبرې کولې. د روایاتو له مخې یې د احادیثو د علم زیاته برخه له نفیسې (رح) څخه زده کړې ده(الذهبی، ۱۹۸۵م).

**پنځم مطلب: ام الدردا (رض) د ساینس ماهره**

ام الدردا د ابو الدردا مېرمن وه. د نوموړې په اړه ویل کېږي، چې هغه د ساینس په علومو کې ډېره ماهره وه. اوس تاسې فکر وکړئ، اسلام په داسې وخت کې چې ښځې به د ظلم ښکار ګرځېدې او چې پیدا به شوې، نو ژوندۍ به یې ښخولې، د علم رڼا خپره کړه، چې په مسلمانانو ښځو کې د ساینس په هرې څانګه کې ماهرانې موجودې وې. تر دې زیاته روښانفکري نوره څنګه وې؟ چې اسلام د ښځو لپاره تعلیم اړین ګرځولی دی. د هغې د پرمختګ لپاره یې دروازې خلاصې کړې دي، نه یې هغوی له علم او تحصیل څخه بندې کړي او نه یې د ښځو په شاته پاتې کېدو اصرار کړی دی؛ خو د اسلامي حجاب تر سیوري لاندې(مومند، ۱۳۹۸هـ ش).

## دریم مبحث: په اسلام کې د ښځو ټولنیز حقوق

ښځې په ټولنه کې د څلورو مختلفو مقامونو لکه مېرمن، لور، مور او خور څښتنه ده. د دې لپاره په کار ده، چې د دوی د ټولنیزو حقوقو یادونه هم په بیلابیلو عنوانونو کې وشي.

### لومړی مطلب: په اسلام کې د لور ټولنیز حقوق

اسلام په سختۍ سره د دې منعه کړې ده، چې لورګانې تر پیدا کیدو وړاندې مه وژنئ او د دوی وژل یې منعه کړي دي، څرنګه به چې د جهالت په دوره کې خلکو خپلې لورګانې ژوندۍ په خاورو کې ښخولې. په سورت التکویر کې الله (ج) فرمایلي دي[وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ * بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ](سورت التکویر:آیت۹). ژباړه: او کله چې له ژوندۍ ښخې شوې ښځې نه پوښتنه وشي، چې په کومه ګناه وژل شوې وې؟(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج۲، ۱۶۵۲).

په اسلام کې یوازې د لورګانو وژل تر پیدا کیدو وړاندې حرام نه دي؛ بلکه د زامنو وژل هم حرام دي. په سورت بني اسرائیل کې الله (ج) فرمایلي دي:[وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشيَةَ إِمْلاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُم ](سورت الاسرأ: آیت ۳۱). ژباړه: او خپل اولاد د مفلسۍ یا غریبۍ له امله مه وژنئ، موږ تاسې او هغوی ته روزي ورکوو. بل ځای په سورت بني اسرائیل کې الله جل جلاله فرمایي:[وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشيَةَ إِمْلاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُم إنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْءًا كَبِيراً ](سورت الاسرأ: آیت ۳۱). ژباړه: او خپل اولاد د غریبۍ له ویرې مه وژنئ، موږ هغوی ته روزي ورکوو او تاسو ته هم بیشکه د دوی وژل کبیره ګناه ده. له اسلام نه مخکې په عربو کې د اولاد ژوندي ښخولو رواج عام و، د الله جل جلاله په فضل او کرم سره او د اسلام د مبارک دین له برکته دا ټول ناوړه رواجونه ختم شول؛ خو په خواشینۍ سره باید ووایم، چې په هندستان کې دا بد رواج اوس هم شتون لري(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۱۶۲۱).

### دویم مطلب: په اسلام کې د مېرمنې حقوق

پوښتنه: په اسلام کې د مېرمنې حقوق کوم دي؟ ځواب: په تېرو پیړیو کې ښځه د فساد لامل او یا د شیطان وسله بلل کیده؛ خو د دې په مقابل کې الله (ج) په قران شریف کې ښځې ته د شیطان پر ضد د ډال خطاب کړی دی. که یوه نیکه ښځه له یو سړي سره واده وکړي، هغه له شیطاني کارونو څخه منعه کوي او د ښځې دا کوښښ وي، چې خپل مېړه په سمه لاره برابر کړي.

له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې حضرت محمد (ص) فرمایلي دي، چا چې واده وکړ، هغه نیم دین پوره کړ. په دې اړه له ما نه یو ځل چا پوښتنه وکړه، که چیرې څوک دوه ودونه وکړي، نو دین یې پوره کړ؟ پوښتونکی په اصل کې د حضرت محمد (ص) په فرمان پوه شوی نه و، په دې فرمان کې د محمد (ص) مطلب دا و، چې کله تاسې واده وکړئ، په دې دوران کې له سمې لارې نه د اوښتو

امکانات کمیږي او د بدکارۍ په لار له تللو منعه کېږي. همدارنګه له واده سره سړی له نورو کبیره ګناهونو څخه هم پاک پاتې کېږي، سربېره پر دې له واده سره هلک سړی او نجلۍ ښځه کېږي او تر دې وروسته د مور کیدو او پلار کیدو وار راځي. دا ځلور مرحلې په اسلام کې زیات اهمیت لري او د دوی د حقوقو تعین په اسلام کې په ډېر روښانه ډول شوی دی. په همدې خاطر واده کول په اصل کې نیم دین پوره کیدل دي، که غواړې چې د یو څخه زیات ودونه وکړې، نو مراد ترې واده دی، د کوم مطلب چې نیم دین پوره کیدل دي.

**لومړی جز: په اسلام کې له نجونو سره د واده په اړه مشوره کول**

په کوژدن او واده کې چې د نجلۍ د راتلونکې ژوند سرنوشت او د نوي کور انتخاب او پیلامه وي، د نجلۍ نظر او توافق ته پکې زیاته اړتیا وي. د نجلۍ ولي ته شریعت حکم کړی دی، چې د نکاح په هکله باید د نجلۍ موافقه په یوه طریقه ترلاسه کړي. حضرت ابي هریرة (رض) روایت کوي، چې پیغمبر (ص) فرمایلي دي[لاتنکح البکر حتی تستاذن قالوا یا رسول الله وکیف اذنه؟). ژباړه: تر څو چې له پېغلې نجلۍ څخه اجازه نه وي ترلاسه شوې، په نکاح دې نه ورکوي. صحابه کرامو پوښتنه وکړه، چې د هغو اجازه څرنګه وي، یا رسول الله؟ ویې فرمایل: چې کله مشوره ورڅخه اخیستل کېږي او دغه وخت جواب ورنه کړي، چپ شي، دغه دلیل د اجازې دی.

خو زموږ ټولنه کې له نجلۍ څخه په دغه وخت کې پوښتنه نه کېږي او دا حق ترې مکمل سلب شوی دی. په دې هکله د نجلۍ هو او نه، د هغې سپین سترګي او بې حیایي بلل کېږي؛ بلکې کورنۍ یې د ځان لپاره عار بولي، د خبرې تر ختمیدو او په اصطلاح د دستمال ورکولو تر وخته نجلۍ بالکل خبره نه وي، تر خبریدو وروسته که خوښه وي، یا هم ناخوښه، بله چاره نه لري، مجبوره ده، چې هر څه شوي وي، ویې مني. حال دا چې ښځه شرعا د خپل واده، د اوږدې مودې د ملګري د انتخاب حق لري، هیڅا ته دا حق نشته، چې هغه په زور چاته ورواده کړي. شریعت په دې هکله د نجلۍ منلو او نه منلو ته ډېر اهمیت ورکړی، چې د احادیثو او فقې په کتابونو کې تفصیلي او مهمه مسئله ده(غبار، ۱۳۹۰).

**دویم جز: په اسلام کې د نجلۍ په زوره ودول جایز نه دي**

ښځه او سړی د موټر دوه ټایرونه دي او د ژوند موټر په دې توګه ښه چلیدای شي، چې دواړه ټایرونه برابر وي، یعنې جوړه او پوره وي، که چېرې یو ټایر یې غټ او بل وړوکی وي، نو ډېر ګډوډ ځي او تر لږ مزل وروسته دربېږي. په قرآن شریف کې راغلي، چې موږ د مېړمن او مېړه په زړه کې یو بل ته د محبت ځای ورکړی دی. په سورت روم کې الله جل جلاله فرمایلي دي:[وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ

أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ](سورت الروم:آیت ۲۱). ژباړه: او د هغه له نښو څخه یوه دا ده، چې تاسو ته یې ستاسو له خپل جنسه جوړې پیدا کړې دي، ترڅو آرام او سکون ورسره بیا مومئ او ستاسې ترمنځ (میرمن او مېړه) مو مینه او محبت پیدا کړ. همدارنگه په سورت النساء کې واده ته د میثاق یعني پوخ ایمان او پاک تړون نوم ورکړل شوی دی(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۵۹۰).

په سورت النساء کې الله جل جلاله فرمایلي دي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا](سورت النسأ: آیت۱۹). ژباړه: اې مومنانو! تاسو ته روا نه ده، چې په زوره ځان د ښځو وارثان کړئ(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۴۷).

د دې مطلب دا دی، چې له ښځو سره په زوره واده کول جایز نه دي او په واده کې د دواړو یعنې ښځې او سړي یو ډول رضا ضروري ده، تر دې پورې چې پلار هم حق نه لري، چې د لور له رضا پرته هغه چاته ورواده کړي.

**درېیم جز: په اسلام کې د میرمنې سره د ښه سلوک حکم**

الله جل جلاله او د هغه استازي حضرت محمد (ص) د ښځو او میرمنو په حقوقو زیات ټینگار کړی دی. له امام حنبل (رح) څخه روایت دی، چې په مسلمانانو کې تر ټولو ښه هغه څوک دی، چې ښه اخلاق او سلوک ولري او له خپلې کورنۍ او میرمنې سره ښه چلند کوي.

سوال: په قرانکریم کې سړي ته د قوام خطاب شوی دی، د دې مفهوم څه دی؟ ځواب: د اسلام له نظره سړی او ښځه برابر دي او په قرآنکریم کې الله جل جلاله په څرگنده فرمایلي دي، چې د ښځو او سړو، مېړه او مېرمنې ټولو حقوق برابر دي. پرته له دې چې د کور په معاملاتو کې د سړي حق زیات دی او د کور د واک کیلي د سړي په لاس کې ده. په قرآنکریم کې په سورت البقره کې الله تعالی فرمایلي دي: [وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ](سورت البقره: آیت۲۲۸). ژباړه: او د ښځو لپاره هم حقوق دي پر سړیو، لکه د سړیو چې پر هغوی حقونه دي او سړیو ته پر ښځو لږ فضیلت حاصل دی. زه دا خبره پوره یقین سره کوم، چې له دې آیت شریف نه زیات شمیر مسلمانانو غلط استدلال کړی دی، په کار ده، چې د قرآنکریم فرمانونه بېل بېل ونه ویل شي؛ بلکه یو بل سره باید یو ځای شي او وویل شي ، بیا ترې مطلب واخیستل شي(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۱۸۴).

**څلورم جز: له ناخوښو مېرمنو سره هم د نېکو اخلاقو او ښه چلند حکم**

قرآن شریف تر دې پورې وړاندې ځي، که چیرې تاسې خپله میرمن نه خوښوئ، نو له هغې سره هم باید ښه چلند وکړئ. په سورت النساء کې ارشاد مبارک دی:[فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا](سورت النسأ: آیت۱۹). ژباړه: که هغوی ستاسې خوښې نه وي، په ښه ډول ورسره ژوند تیر کړئ، کیدای شي چې یو څیز ستاسو خوښ نه وي او الله جل جلاله تاسو ته په هغې کې ډېره

فایده ایښې وي. د قرآن شریف له دې څرګندې فیصلې نه وروسته چې د میرمنې او مېړه حقوق په اسلام کې برابر دي، آیا بیا به هم دا ویل انصاف وي، چې په اسلام کې ښځو ته د وروسته پاتې او بدترین مخلوق په توګه کتل شوي دي؟ نه هیڅکله نه!(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۴۷).

**پنځم جز: د دوو یا ګڼو ښځو ترمنځ عدل (برابري) نه کول ګناه ده**

که یو سړی دوه یا درې یا څلور ښځې ولري یا او د هغوی ترمنځ په نفقه، جامه، معامله او شپه تېرولو کې عدالت نه کار وانه خلي، نو دا ظلم او ناروا عمل دی. که یو سړی ویریده، چې زه به د دوو یا ډېرو ښځو ترمنځ عدل ونه شم کړای، نو هغه ته بله ښځه کول روا نه ده، ځکه د الله (ج) ارشاد دی:[فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً](سورت النسأ: آیت،۳). ژباړه: که چیرې له تاسو سره ویره وي، چې تاسو به انصاف ونه کړای شئ، بیا درته یوه ښځه کافي ده (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۲۷).

نبي کریم (ص) فرمایلي دي: (من کانت له امراتان فمال الي احداهما جاء یوم القیامة واحد شقیه ساقط ). ژباړه: څوک چې دوه ښځې ولري او یوې ته پر هغې بلې په جامه، خوراک او شپه تیرولو او داسې نورو کې فوقیت ورکړي، نو د قیامت په ورځ به یې د بدن یو طرف غورځیدلی وي. د الله (ج) ارشاد مبارک دی:[وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ ۖ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ](سورت النسأ: آیت،۱۲۹). ژباړه: هېڅکله تاسې (اي د ډېرو ښځو خاوندانو) نه شئ کولای، چې عدل وکړئ (برابروالی وساتئ په هر شي کې) مابین د ښځو خپلو کې، اګر که تاسې ډېر حرص (کوښښ) وکړئ (عدل ته)، نو تاسې مخ مه ګرځوئ (له یوې ښځې څخه) په کامل مخ ګرځولو سره، چې پرېږدي دا (ښځه) په شان د ځوړندې کړای شوې(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۵۵۴).

**دریم مطلب: په اسلام کې د مور حقوق**

الله جل جلاله په قرآنکریم کې تر عبادت وروسته تر ټولو زیات ټینګار د مور او پلار په حقوقو کړی دی، په دې اړه په بني اسرأیل سورت کې ارشاد مبارک دی:[**وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا) (وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا**](سورت بنی اسرأیل: آیت۲۳، ۲۴). ژباړه: او ستاسو رب جل جلاله دا حکم کړی دی، چې له هغه پرته د بل هیچا عبادت مه کوئ او له مور او پلار سره ښه سلوک کوئ، که په دوی کې یو یا دواړه ستاسو په وړاندې بوډاوالي ته ورسیږي، نو تاسې اف قدرې هم دوی ته ونه کړئ او دوی مه رټئ، له دوی سره په نرمه لهجه خبرې کوئ او د هغوی په وړاندې په مینه، محبت او عاجزۍ سره ټیټ اوسیږئ، داسې ووایه، چې اې زما ربه! په دې دواړو باندې رحم

وکړه، لکه چې دوی په کوچنيوالي کې زما روزنه او پالنه کړې ده(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۱۶۱۵_۱۶۱۶).

**لومړی جز: جنت د مور او پلار تر قدمونو لاندې**

زموږ خوږ پیغمبر(ص) په وار وار د والدینو او په ځانګړي توګه له مور سره د ښه سلوک ټینګار کړی دی، د احمد او ابن ماجه شریف یو حدیث کې روایت دی، چې محمد (ص) فرمایلي دي: چې جنت د مور تر قدمونو لاندې دی.

مطلب دا چې څوک د مور خدمت د زړه له خلاصه او په اخلاص سره وکړي او د هغې ضرورتونه پوره کوي، د هغې احترام کوي، نو انشاءالله هغه به جنت ته داخلیږي.

لومړی جز: درې واړه ډالۍ د مور و پلار لپاره یوازې د ښه سلوک انعام دی

په بخاري، مسلم، ابو داؤد، ترمذي، ابن ماجه او مسند احمد کې یو حدیث له لږ لفظي اختلاف سره راغلی دی، د صحیح بخاري د ۸ جلد ۲ باب په یو حدیث کې راغلي دي، چې یو سړي له رسول الله (ص) نه وپوښتل، چې پر ما د چا د خدمت زیات حق دی؟ پیغمبر (ص) وفرمایل: ستا د مور. هغه وویل: تر دې وروسته د چا؟ ویې فرمایل: ستا د مور. هغه بیا وپوښتل، چې تر دې وروسته؟ بیا هم حضرت محمد (ص) ورته وویل: ستا د مور. بیا یې ترې وپوښتل، چې تر دې وروسته د چا؟ حضرت محمد(ص) وفرمایل: ستا د پلار.

دا حدیث د پورتنیو آیتونو مکمله ترجماني کوي، دا ځکه چې په دې کې هم د مور درې حقوقو ته اشاره شوې ده، یعنې همدې مور دومره تکلیف تیر کړی دی، دا یې په ګېډه کې وساته، خواري او کوښښ یې وکړ، د هغه روزنه یې وکړه، تی یې ورکړ، نو د محبت د درې برخو مستحقه مور ده او د یوې برخې مستحق پلار دی(القرني، ۱۳۹۲).

**څلورم مطلب: په اسلام کې د خور حقوق**

اسلام په ځانګړي ډول د وینې د اړیکې له خپلوانو سره د ښه چلند زیات ټینګار کړی دی، په سورت التوبه کې الله جل جلاله فرمایلي دي:[وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ](سورت التوبه: آیت ۷۱). ژباړه: مومنان سړي او مومنانې ښځې د یو بل ملګري دي(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۱۱۰۳).

په پورتني آیت کې د اولیاؤو نه مراد دا دی، چې یو بل ته پناه ورکوونکي، اوره ورکونکي او د یو بل ساتونکي یعني د یو بل خور و ورور دي. خورګانې د وراثت حقدارې دي، الله جل جلاله خورګانو ته په وراثت کې برخه ټاکلې ده. په سورت النساء کې الله جل جلاله فرمایلي دي:[فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ

السُّدُس ](سورت النسأ: آیت۱۱). ژباړه: که چیرې ورونه خویندې یې پاتې وي، نو د مور شپږمه برخه کېږي (اسماعیل بن عمرو، ۱۴۱۹هـ ق).

**څلورم مبحث: په اسلام کې د ښځو قانوني حقوق**

د الله جل جلاله په وړاندې د ښځو او نارینهو حقوق برابر دي، شریعت چې څرنګه د نارینهو د حقوقو محافظ دی، همداسې د ښځو د حقوقو هم حفاظت کوي. که چیرې یو نارینه کومه ښځه وژني، هغه ته به هماغه جزا ورکول کېږي، کومه چې د سړي د وژلو په بدل کې ښځې ته ورکول کېږي، یعنې د وژلو په بدل کې وژل یا قصاص. په قرآنکریم کې په سورت البقره کې الله جل جلاله فرمایلي دي:[**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنثَىٰ بِالْأُنثَىٰ ۚ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ**](سورت البقره: آیت۱۷۸). ژباړه: اې مؤمنانو! ستاسې لپاره د قتل په بدل کې د قصاص حکم لیکل شوی دی، که اصلي قاتل وي له هماغه اصلي نه دې بدل واخیستل شي، که غلام قاتل وي، نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې څخه دې قصاص واخیستل شي. هو! که له کوم قاتل سره د هغه وژل شوی ورور څه نرمي کولو ته تیار وي، نو په دې توګه دې د قتل د بدل په باب اقدام وشي او پر قاتل باندې لازمه ده، چې په صداقت سره دیت ورکړي (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۱۲۸ ـ ۱۲۹ ـ ۱۳۰).

په دې صورت کې روښانه ده، که چیرې قاتله ښځه وي، نو همدا به قصاص کېږي. اسلامي قانون د قصاص په اړه داسې نه دی، چې وګوري، مجرم سړی دی، که ښځه؟ د سترګې په بدل کې سترګه، د پوزې په بدل پوزه، د غوږ په بدل کې غوږ د قصاص حکم دی. که چیرې د مقتول وارثه کومه ښځه وي او هغه قاتل وبخښي او دیت اخیستلو ته تیاره شي، نو شریعت د دې د منلو حکم هم کوي. که چیرې د مقتول په وارثانو کې په دې معامله کې اختلاف وي، د ځینو نظر دا وي، چې قاتل دې قتل کړل شي؛ خو ځینې د دیت په اخیستو بخښلو ته تیار وي، نو (د وارثې ښځې نظر ته په احترام) خلکو ته پکار دي، چې د قصاص په نظر عمل وکړي. په قرآن شریف کې په سورت المائده کې د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی:[وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ](سورت المائده: آیت۳۸). ژباړه: که غل سړی وي او که ښځه، د دواړو لاسونه پرې کوئ، دا د هغوی د عمل بدله ده او د الله جل جلاله له اړخه ټاکل شوې جزا ده (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ٦٣٦).

**لومړی مطلب: په اسلام کې د ښځو د شاهدۍ مسئله**

په اسلامي شریعت کې د ښځو د شاهدۍ د منلو امر شوی دی، اسلام ښځو ته څوارلس نیم سوه کاله وړاندې دا حق ورکړی دی؛ خو د شلمې پیړۍ په اتمه لسیزه کې د یهودو یو مشر بیان ورکړ، چې په دې اړه غور کوو، چې ښځو ته د شاهدۍ حق ورکړو، که نه؟

**دویم مطلب: د ښځې پر ضد د درواغو تور پورې کولو سزا**

په سورت نور کې الله (ج) فرمایلي دي:[وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا](سورت النور: آیت۴). ژباړه: او هغه خلک چې په پاکلمنو ښځو تور پورې کړي او بیا څلور شاهدان پرې وړاندې نه شي کړای، نو هغوی اتیا دورې ووهئ او بیا هیڅ کله د هغوی شاهدي مه منئ(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۲، ۲۸۹).

په اسلام کې د وړوکي جرم لپاره دوه او د لوی جرم لپاره څلور شاهدان وړاندې کول ضروري دي، تور لګول په پاک لمنو ښځو لوی جرم دی، نو د دې تور د ثابتولو لپاره څلور شاهدان ټاکل شوي دي؛ خو نن سبا عام وګړي په رسنیو کې د ښځو د رسواکولو داسې کیسې ګوري، چې هېڅوک د ښځو د رسواکولو هیڅ موقع له لاسه نه ورکوي؛ لیکن د دوی پر ضد هیڅ قانوني اقدام نه کېږي، چې تاسې پر ښځو تورونه ولګول، دا رښتیا دي که درواغ. تر دې پورې چې ښځې د تحفو په شکل وړاندې کوي او کنځل ورته کوي، خو د دې برعکس که څوک په اسلامي ریاست کې په ښځه باندې دا ډول تور پورې کړې، هغه به محکمې ته څلور شاهدان وړاندې کوي، که څلورو کې د یو شاهدي هم غلطه وي، دې ټولو ته به اتیا اتیا دورې سزا ورکول کېږي او په راتلونکې کې به د دوی شاهدي نه منل کېږي. په اسلام کې د ښځې د پاک لمنۍ په اړه ډېر تاکید شوی دی(عارفی، ۱۳۹۹هـ ش).

**پنځم مبحث: په اسلام کې د ښځو اقتصادي حقوق**

اسلامي شریعت ښځو ته څوارلس نیم سوه کاله مخکې اقتصادي حقوق ورکړي دي، اسلام هرې ښځې ته چې بالغه وي، که واده شوې وي، یا نه، د شتمنۍ درلودو حق ورکړی دی، د شیانو په اخیستو او خرڅلاو کې مکمله آزادي لري، په دې کې هېڅوک د لاسوهنې حق نه لري. په ۱۸۷۰م کال کې انګلینډ په لومړي ځل ښځو ته د شتمنۍ درلودو او په آزاده توګه د رانیولو او خرڅلاو حقوق ورکړل، همدا رنګه دا اعزاز د غرب نه وړاندې د اسلام په برخه دی او اسلام ښځو ته پوره اقتصادي حقوق ورکړي دي.

نو که چېرې یوه ښځه چې عاقله او بالغه وي، که واده شوې وي، یا نه، د شتمنۍ درلودو حق لري، همدارنګه د شیانو په اخیستو او خرڅلاو کې مکمله آزادي لري، چې دا ازادي به د شریعت او قانون خلاف نه وي، په دې کې هیڅوک د لاسوهنې حق نه لري، خو یوه خبره دا ده، چې ذکر شوې کړنې به په حجاب کی تر سره کوي(مطهری، ۱۳۴۶هـ ش).

**لومړی مطلب: په اسلام کې د ښځو پر کار حقوق**

په اسلامي شريعت کې د ښځو پر کارکولو هېڅ بنديز نشته، په قرآنکريم او مبارکو نبوي احاديثو کې هېڅ داسې ذکر نشته، چې ښځې يې له کاره منعه کړې اوسي، خو په دې شرط چې غير قانوني نه وي او له اسلامي او شرعي حدودو څخه پکې سرغړونه نه وي شوې. لباس يې هم اسلامي حجاب سره سم وي، دا خو طبيعي خبره ده، چې کومه ښځه اسلامي حجاب مراعتوي، هغه داسې کار نه خوښوي، چې مقصد ترې خلکو ته د هغې د ښکلا او جسم ورښودل وي. د مثال په ډول په فلمونو کې کار کول، سندرې ويل او همدا راز نور زيات شمير کارونه داسې دي، چې د ښځو او نارينه وو دواړو لپاره منعه دي، يا په هوټل کې د ښځو کارکول دا هم منعه دي، همدارنگه سودي ادارو يا بانکونو کې کارکو ل د ښځو او نارينه وو دواړو لپاره حرام او ناروا دي (صاحبزاده، ۱۳۹۸هـ ش).

**دويم مطلب: کوم کارونه د ښځو لپاره غوره او ښه دي**

په يوې رښتينې اسلامي ټولنه کې د ښځو لپاره د نرسې، ډاکټرې او استادې دندې ښې دي، ځکه چې موږ ته د ښځو ډاکترانو، قابله گانو، نرسانو، او ښځو استادانو ډېر زيات ضرورت دی، خو پر دې خبرې پوهيدل په کار دي، چې په ښځه باندې د کور د کفالت هيڅ مالي بوج نشته؛ بلکه دا پيټی يې د نارينهو په اوږو اچولی دی او نارينه مکلفيت لري، چې د خپلې کورنۍ لپاره نفقه برابره کړي؛ خو د اړتيا په صورت کې ښځه کولای شي، چې کار وکړي، البته په ښځه باندې هيڅ جبر نشته او دا د هغې خپله خوښه ده، چې کار کوي، که نه، له پورتنيو کارونو پرته ښځه په خپل کور کې هم کار کولای شي. د ساري په توگه خياطي او نور داسې کارونه او همدارنگه په هغو فابريکو او وړو صنعتونو کې هم کار کولای شي، په کومو کې چې يوازې ښځېنه کارکوونکې کار کوي، دا ځکه چې اسلام مسلمانو ښځو او نارينهو ته د دې اجازه نه ورکوي، چې دوی سره گډ کار وکړي.

ښځې لوی تجارت هم کولای شي، خو که چېرې کوم بل هېواد ته د تللو ضرورت پيدا شي، نو کولای شي، چې د ورور يا پلار او يا ميړه، يا زوی سره يوځای سفر وکړي (ابن عابدين، ۱۱۹۸هـ ق).

**درېيم مطلب: په اسلام کې د ښځو لپاره ځانگړي انعامونه**

د اسلام په مبارک دين کې د ښځو لپاره ځانگړې اقتصادي اسانتياوې شتون لري، دا طبيعي خبره ده، چې د واده په وخت کې د ناوې راوستو لپاره د هلک کورنۍ د نجلۍ کور ته ورځي او د خاوند له کوره جهيز، د خپلوانو تحفې او له ميړه څخه مهر ښځې ته ورکول کيږي.

په قرآنکریم کې الله (ج) فرمایلي دي:[وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً](سورت النسأ: آیت۴). ژباړه: او ورکوئ تاسې ښځو (خپلو) لره مهرونه د هغو په ورکړه له خوشحالۍ سره (چې فرض شوی دی له طرفه د الله ج پر تاسې)(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۲۸).

په اسلام کې د واده د مکملیدو لپاره د ښځې مهر ضروري دی، خو دا ډېره د خواشینۍ خبره ده، چې موږ د قرآنکریم له امر نه ټوکې جوړې کړې دي، ډېری خلک ډېرې کمې روپۍ د مهر لپاره ټاکي، چې حتی د مهر اطلاق هم پرې نه کېږي او وایي، د اسلام پر وړاندې مو غاړه خلاصه شوه، خو د دې پر خلاف پر ودونو دومره بې ځایه مصارف کوي، چې حساب یې نه کېږي، په یو رواج باندې په لکونو روپۍ مصرفوي، په اسلام کې د مهر کم نه کمه او زیات نه زیاته اندازه نه ده ټاکل شوې، کوم سړی چې د واده په غیرشرعي مراسمو باندې لکونه روپۍ مصرفولای شي، نو په کار ده، چې د هغو د میرمنې مهر هم زیات وي. په اکثرو اسلامي هېوادونو کې داسې رواجونه لیدل کېږي، چې مهر هسې په نوم ټاکل شوی وي او د دې پر خلاف د نجلۍ د پلار له کوره هم تمه کېږي، ځینې وختونه د هلک کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته د سامان لیستونه هم ورکوي، ترڅو ناوې له ځان سره د میړه کور ته یخچال، تلویزیون او داسې نور شیان راوړي، خیر دی که د نجلۍ پلار د دې سامان د پوره کولو لپاره له نورو څخه پورونه هم واخلي. ځینو سیمو کې د هلکانو نرخونه هم ټاکل شوي وي، د انجینر، ډاکټر، قاضي، څارنوال او اقتصاد پوه بېل بېل نرخونه وي، حال دا چې په اسلام کې د هلک له اړخه د جهیز غوښتنه حرامه ده، خو که چېرې د نجلۍ کورنۍ په خپله خوښه نجلۍ ته څه ناڅه جهیز ورکوي، یا نور څه د کور سامان ورته اخلي، نو په دې کې کوم حرج نشته، خو د نجلۍ کورنۍ مجبورول حرام کار دی(مطهری، ۱۳۴۶هـ ش).

**څلورم مطلب: په میراث کې د ښځو حقوق**

اسلامي شریعت له وړاندې ښځو ته د وراثت حق ورکړی دی، په هر حالت کې ښځه که مور، خور، مېرمن یا لور وي، په وراثت کې د حق لرلو حقداره ده، په دې کې د هیڅ ډول شکونو ځای نه دی پاتې. الله جل جلاله په قرآنکریم کې د وراثت ټول حکمونه په څرګنده بیان کړي دي او په قرآنکریم کې یې ورته اندازه هم ټاکلې ده.

ښځې له نارینه‌و څخه په دې خاطر وروسته ذکر شوې، چې د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر وینا عمل وشي (لقوله علیه السلام: أخروهن من حیث آخر هن الله تعالی). ژباړه: ښځې وروسته کړئ، ځکه چې الله تعالی له سړیو وروسته کړې دي(المرغیناني، ۱۳۹۲).

ښځینه ذوی الفروض اته (۸) تنه دي، چې له زوجې، لور، د زوی لور که څه هم ښکته وي، خور برابره ده که اعیاني وي، علاتي وي او که اخیافي، مور، او نیا څخه عبارت دي(رحیمزی، ۱۳۹۳).

د پیغمبر (ص) په زمانه کې هرې ښځې خپل مالکانه حیثیت پېژانده او په خپله یې چې هر قسم تصرف پکې کاوه، خاوند یا خپلوانو یې په کې مداخله نه کوله.

حضرت عبدالله بن مسعود یو غریب سړی و، میرمنې یې هغه ته وویل: پیغمبر (ص)د د صدقې کولو حکم کړی، ته یو ځل ورشه، پوښتنه ورڅخه وکړه، چې دا جایزه ده، چې زه تا ته(خپل خاوند عبدالله ته) خپل مال نه صدقه درکړم او که جایز نه وي، چې بیا یې بل چاته ورکړم؟ حضرت عبدالله بن مسعود (ض) ورته وویل: ته خپله ورشه، نو حضرت زینب رضی الله عنها په خپله ورغله، د نبي (ص) کور ته یوه بله ښځه هم د همدغې پوښتنې لپاره راغلې وه، خو د نبي (ص) حضور ته د ورتلو جرائت یې نه درلود. دا وخت حضرت بلال (رض) راووت، نو هغه ته یې وویل: پیغمبر (ص) ته ورشه، ورته ووایه، چې دوه ښځې راغلې دي، دا پوښتنه لري، چې له خپل مال نه په خپلو میړونو او په هغو یتیمانو چې کفالت یې ورپه غاړه دی، صدقه کول جایز دي، که نه؟ حضور (ص) وفرمایل: بلې! جایز دي؛ بلکې د هغوی لپاره دوه ثوابه دي، یو د خپلولۍ او بل د صدقې (رحیمزی، ۱۳۹۳).

**شپږم مبحث: په اسلام کې د ښځو سیاسي حقوق**

د رسالت په زمانه کې ښځو په سیاسي امورو کې برخه اخیسته او هغوی ته سیاسي اختیارات حاصل وو. د اسلام دښمنانو کافرانو ته یې پناه ورکوله او رسول الله (ص) ته د هغوی پناه ورکول منظور او قابل تنفیذ و. په سیاسي امورو کې یې مشوره ورکوله او له هغوی څخه مشوره اخیستل کیده. د سیاسي مجرمینو د قتل او عفوې په باره کې هغوی پیغمبر (ص) ته خپله رایه ورکوله، د نارینه‌و په شان په هغوی جهاد فرض نه و؛ لیکن بیا هم ځینو ښځو په شوق او اخلاص سره په جهاد کې برخه اخیسته. د زخمیانو علاج او تداوي یې کوله، د جنگ ډګر ته یې اوبه رسولې، شهیدان یې د جنگ له میدان څخه مدینې منورې ته رسول. د جنگ په محاذ کې یې مجاهدینو ته غشي او مرمۍ ورکولې، د خوراک او څښاک په برابرولو کې یې مرسته ورسره کوله، د ضرورت په وخت کې یې قبرونه هم ایستل. مجاهدینو ته یې همت او غیرت ورکاوه او د دښمن په مقابل کې یې هغوی ته حوصله ورکوله(المرغیناني، ۱۳۹۲).

**لومړی مطلب: په اسلام کې ښځه د جګړې په ډګر کې ونډه اخیستلای شي**

د احد په غزا کې څو مسلمانې ښځې په یو ګروپ کې سره شریکې وې، حضرت عایشې رضي الله عنها او د انس (رض) مور ام سلیم رضي الله عنها زخمیانو ته اوبه ورکولې. د انس (رض) وینا ده، چې ما حضرت عایشه او خپله مور ام سلیم ولیدل، چې د اوبو مشک یې په سرو، رایې وړلو او زخمیانو ته یې اوبه ورکړې.

په بخاري شریف کې یو بل حدیث دی، چې د ابو سعید خدري (رض) مور ام سلیط به د احد په غزا کې د اوبو مشک ډک راووړ او زخمیانو ته به یې اوبه ورکولې.

**لومړی جز: د ام عماره شجاعت او سخته مقابله**

په دغو نازکو حالاتو کې چې کله کافرانو یو ناڅاپه شکست وخوړ او مسلمانان د غنیمت په راټولولو مصروف شول، د کافرانو یو جنګي ګروپ د شا له طرف نه راغی او خورا سخته حمله یې وکړه، په جنګ کې لګیا مجاهدین چې یو ناڅاپي له حملي سره مخ شول او د دغسې شرایطو مهاړول ورته مشکل و، بالاخره خواره واره شول. پیغمبر (ص) دغه وخت صرف له یو څو تنو سرښندونکو صحابه کرامو سره پاتې و، چې په دې وخت کې ام عمارې رضي الله عنها ځان پیغمبر (ص) ته راورساوه او خپل ځان یې سپر جوړ کړ. کافرانو به چې کله په پیغمبر (ص) حمله راوړه، هغې به په نیزه او توره دفاع کوله، ابن قیمه چې کله په رسول الله (ص) باندې یرغل کاوه، ام عماره رضي الله عنها ورمخته شوه، ابن قیمه په هغې باندې د تورې ګوزار وکړ، په اوږه باندې ډېره ژوره زخمي شوه، بیا هم هغې په دغه کافر څو مسلسل ګوزارونه وکړل؛ خو ابن قیمه دوه زغرې اغوستې وې، ځکه یې څه اثر ورباندې ونه کړ (المرغیناني، ۱۳۹۲).

**دویم جز: د حضرت صفیې رضي الله عنها له خوا د یهودي جاسوس وژل**

د خندق په غزا کې چې حضرت صفیې رضي الله عنها په کوم زړورتوب سره یهودي قتل کړ، د یهودیانو د حملې د شنډولو لپاره یو بهترین تدبیر و، چې تفصیل یې دا دی. د خندق په غزا کې چې کله کافرانو د خپل لښکر په واسطه مدینه منوره له درې خواوو محاصره کړه، نو د دفاع په خاطر په هره خوا کې د مسلمانانو سرښندنې ته اشد ضرورت و، دغه وخت د ښځو د حفاظت لپاره د (قارع) کلا غوره شوې وه، چې د انصارو له ډېرو مضبوطو کلاګانو څخه وه، غالبا چې د حضرت حسان (رض) کلا وه او د ساتنې لپاره یې هم حضرت حسان مؤظف شوی و.

دغه کلا د یهودو د بنو قریظه قبیلې له آبادۍ سره پیوسته وه، هغوی چې کله ولیدل، چې ټول مسلمانان له رسول الله (ص) سره دفاع کې مصروف دي، نو د ښځو په دغې کلا باندې د حملې په نیت ورغلل او یو یهودي د دغې کلا مخې ته ورسید، په کلا باندې یې د حملې خیال درلود، حضرت صفیې رضي الله عنها چې کله ولید، نو حضرت حسان (رض) ته یې وویل: ورښکته شه او یهودي ووژنه، که نه نو دغه یهودي به لاړ شي او نور به راخبر کړي. حضرت حسان (رض) د دغه کار یعنې د یهودي له وژلو معذرت وړاندې کړ او ویې ویل: که زه د دې کار وای، بیا به دلته ولې پاتې وم؟ بالاخره حضرت صفیې (رض) د خیمې یو لرګی راواخیست، ورښکته شوه او یهودي یې په ډېر زور سره په سر وواهه، یهودي وغورځید او بیرته کلا ته راغله، حسان ته یې وویل: چې اوس ورشه، د هغه اسلحه او سامان راوړه. حضرت حسان (رض) بیا ورته وویل: زما دغو څیزونو ته هیڅ ضرورت نشته، حضرت صفیې رضي الله عنها ورته وویل: ښه نو لاړ شه، د هغه سر ورنه پرې کړه او لاندې یې ورغوړوه، چې یهودیان وویریږي او فکر وکړي، چې

کلا محفوظه ده. حضرت حسان (رض) دا هم ونه کړه، بلاخره هغه په خپله لاړه او سر یې ورځینې پرې کړ، لاندې یې ورغړاوه. یهودیان پوه شول، چې کلا کې څه مسلح ساتندویان شته، نو زړونو کې یې رعب پریوت، په کلا یې حمله ونه کړه(کاظم، ۲۰۰۵م).

**دویم مطلب: په اسلام کې د ښځو د رایې ورکولو حقوق**

د ښځو دا حق د بیعت له لفظ نه معلومیږي، په بیعت کې د پیغمبر (ص) او د خلفاء راشدینو په وخت کې سړیو او ښځو دواړو برخه اخیستې ده. د بیعت لغوي معنا عهد او پیمان دی، یا دا چې له خلیفه او امیر سره د اطاعت او وفادارۍ تړون کول. په نبوي سپیڅلي دور او د راشده خلافت په وخت کې د دې معاهدې نښه د لاس ورکول و او د ښځو لپاره اکثره د اوبو په لوښي کې لاس ایښودل د بیعت په معنا و، په داسې حال کې چې د امیر لاس به هم په اوبو کې ایښی و. د بیعت کوونکي له خوا به د اطاعت او فرمان منلو ژمنه کېده او د امیر له خوا به د قرآن او سنتو د پیروۍ او حاکمیت، د رعیت د خیر خواهۍ، د عدل او انصاف قایمولو او نورو مهمو ذمه واریو د سرته ر سولو عهد او تړون ترسره کیده. د ا دوه اړخیز تړون به په مصافحې (لاس ورکولو) سرته رسیده. حضرت محمد(ص) نه یوازې د الله جل جلاله پیغمبر و؛ بلکې د اسلامي ریاست مشر هم و، نو د حضرت محمد (ص) بیعت په اصل کې د رایې حق و، کوم حق چې اسلام ښځو ته ورکړی دی، د مکې د فتحې په وخت کې هم رسول الله (ص) له ښځو څخه بیعت اخیستی و(النووی، ۱۳۷۱).

**درېیم مطلب: په اسلام کې ښځې په قانون جوړولو کې ونډه اخیستلای شي**

په یو مشهور روایت کې راغلي دي، چې حضرت عمر (رض) په زیات مهر ټاکلو باندې د جزا ورکولو وړاندیز وکړ، په دې چې خلکو به د زیات مهر له وجې واده نه کاوه. دا وړاندیز یې په یوه غونډه کې وکړ، په دې غونډه کې ګڼ شمیر صحابه کرامو او ښځو اصحابیانو هم ونډه اخیستې وه، په دې کې یوې ښځې خپل نظر داسې څرګند کړ، چې په قرآنکریم د مهر څه مشخصه اندازه نه ده ټاکل شوې، نو عمر (رض) څوک دی، چې په دې بندیز لګوي؟ د قرآنکریم دا مبارک آیت یې تلاوت کړ: [**وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا**](سورت: النسأ، آیت ۲۰). ژباړه: او که تاسو (په ښه توګه ګوزاره نه شئ کولای) د یوې ښځې پر بله ښځه بدلول غواړئ او تاسو هغې ته دولت هم زیات ورکړی وي، نو هیڅ څیز ترې بیرته مه اخلئ(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۴۸).

د ذکر شوي آیت په اورېدو حضرت عمر (رض) پښېمانه شو او خپل وړاندیز یې بیرته رد کړ، ویې ویل: چې دا ښځه رښتیا وایي. غالب ګومان دا دی، چې هغه یوه عامه ښځه وه، که چېرې کومه مشهوره ښځه وای، بیا به یې په روایت کې نوم راغلی و. د حضرت عمر (رض) په شان جلیل القدر صحابي د یوې

ښځې د دلیل له امله له خپل وړاندیز څخه لاس په سر شو، دا ځکه چې قرآن د مسلمانانو قانون دی، یعنې څرګنده او روښانه ده، چې ښځې په قانون جوړولو کې د رایې حق لري، خو د یادولو وړ ده، چې ښځې باید جدا مجلس ولري، له سړو سره ګډه ناسته د اسلام خلاف عمل دی (تهانوي، ۱۴۲۵).

**اووم مبحث: په ټولنه کې د ښځو پر وړاندې ځینې ناسم دودونه**

**لومړی مطلب: د ښځو پلورل**

د هېواد په ډېرو سیمو کې په ښځو باندې د حیواناتو په شان قیمت ایښودل کېږي، د نورو اړخونو له سنجش پرته زیاتو پیسو والا خطبه کونکي حقدار ګڼل کېږي، هماغه بیا مستحق خریدار دی او نجلۍ ورکول کېږي، چې همدا د ولور د زیاتوالي وجه جوړېږي، له همدې امله بیا د ولور کچې په ډېرو سیمو کې دومره لوړې وي، چې د زیاتره ځوانانو په وس پوره نه وي، د پیسو ګټلو لپاره خوارۍ مزدورۍ کوي او نورو هیوادونو ته په مسافرۍ مجبور شي، چې په نتیجه کې د هلک او نجلۍ دغه فطري تقاضا د جوش او شباب ډېره برخه په محرومیت کې تیره شي. کله خو تر واده وروسته هم له مشکلاتو خلاص نه وي او د قرض دروند پیټی یې پر سر وي، کور او وطن یې پرې ایښی وي، نورو وطنونو کې د قرض خلاصولو په تلاش کې ډېرو شاقه کارونو کې لګیا وي، د نوي ژوند او خوږو خاطرو هغه ډکه مرحله بیلتون کې تېره شي، د ولور د لعنت په وجه له مشروع خواهشاتو او ارمانونو څخه محروم وي، خو له بده مرغه پلار، ورور د خپلې لور او خور په ولور خپل جیبونه ډکول د ځان لپاره کمال او افتخار ګڼي او په هغې بله خوا یې چې په نجلۍ له خاوند او د هغه له کورنۍ سره د نه توافق له امله څه تېرېږي، هېڅ پروا نه وي (نور محمدی، ۱۳۸۹).

**دویم مطلب: په بدو کې د نجونو ورکول**

زموږ په ټولنه کې پر ښځو باندې یو ظلم دا کېږي، چې کله د دوو کورنیو او یا قومونو ترمنځ په یو شي اختلاف او نزاع واقع شي او دې حد ته ورسېږي، چې وژنه پکې رامنځته شي، له یوې خوا نه یا دواړو خواوو څخه څوک پکې ووژل شي، بیا د دغې مسئلې د حل لپاره د قوم مشران او ځینې علماء راټول شي، د دوی ترمنځ روغه جوړه وکړي، چې له کومې کورنۍ څخه څوک وژل شوي وي، نو د هغه دیت او بدو لپاره څه اندازه روپۍ او یوه یا دوه نجونې د مقتول وارثانو ته په هغه بل جانب خلکو باندې ږدي، نو داسي فیصلې کول یو ناروا او حرام عمل او د اسلامي شریعت خلاف کار دی، بیا ټول عمر هغه کور کې په دغې نجلۍ باندې قسما قسم ظلمونه کېږي (کاظم، ۲۰۰۵م).

**درېیم مطلب: د خواښې او خسر له خوا په انګور رواجي ظلمونه**

زموږ او ستاسو په ټولنه کې عموما یو بد رواج دا هم دی، چې کله یوه نجلۍ خپل کور ته د ناوې په توګه راوستل شي، نو د ناویتوب نه څو ورځې وروسته د کور ټول کارونه هغې ته ورپه غاړه کړي، خواښې او

اندرورګانې او نورې ښځې همدغه کور ته نوې راغلې ښځه د اخلي پخلي او د کور د ټولو کارونو مسؤله ګڼي او د ټولو تر منت او احسان لاندې وي.
انګور د خپل خاوند د پلار او مور په خدمت مکلفه ګڼل کېږي، چې له دې امله انګور د خپل خاوند په کور کې له زیاتو ستونزو او رواني مشکلاتو سره مخ کېږي، ځکه خواښې او خسر هغه د خپل ځان یوه خادمه ګڼي، اګر چې د یو مسلمان خدمت خو ښه کار دی؛ مګر د هغې مصروفیتونه دومره زیات وي، چې هېڅ حد یې نه وي، له دې امله چې هغوی خپل ځان حقدار ګڼي، نو که انګور بیچاره څومره هم د اکرام او احترام له مخې ورسره چلیږي؛ بیا هم قانع نه وي او له هغې سره د تهدید، فشار او توبیخ چلند کوي. ډېر ځله خبره شور او جنجال ته رسیږي، د هغې خاوند هم د خپلو والدینو په خدمت او د هغوی د کافي رضایت په ترلاسه کولو ښځه مجبوره ګڼي، نو که مور او پلار یې له هغې سره څومره ظلم او بد سلوک کوي، دا د هغوی حق ګڼي؛ بلکه که مور او پلار یې هغه ته د هغه د ښځې نه شکایت کوي، نو بغیر له پلټنې او معلوماتو نه هغې ته زجر او سزا ورکوي. حال دا چې د خپلو والدینو په خدمت کې د هغوی خپل زوی مکلف دی، انګور خو د هغوی د زوی ښځه ده، د هغه په حق او حقوقو ادا کولو ماموره ده، انګور د دغه ډول مکلفیت څخه شرعا بري ده؛ بلکې په خپل خاوند حق لري، چې تر ممکنه حده د هغې لپاره د هغې د خوښې مطابق د ژوند امکانات برابر کړي او د هر ډول منت، احسان او جبر او تشدد څخه اګر که د هر چا له خوا ورباندې وي، د هغې د ژغورلو معقوله لار ولټوي(مارسډن، ۱۳۸۹).

**اتم: د ښځو د شرعي حقوقو د خوندیتوب په موخه کې د اسلامي امارت نوښتونه**

دا چې د هیواد زیاترو سیمو کې دغه شان بې انصافي عامه او له پیړیو را په دې خوا د رواج او دستور بڼه غوره کړې وه، خلک ورسره کاملا عادي وو، حتی خواص هم د ښځو په باب د دغه شان ظلمونو په مخنیوي کې پاتې راغلي وو، صرف په ژبه به په ځینو محفلونو کې پرې بحث کیده، چې ښځو سره دغه ظلم روان دی؛ خو د عملي اقدام وس چا سره نه و، له همدې مخې کله چې د افغانستان د اسلامي امارت نظام په ټول افغانستان کی حاکم شو او د شرعي احکامو د تنفیذ او قیام، او په ټولنه کې د امن په وجه د اکثریت خلکو له خوا یې ملاتړ وشو، نو په ښځو باندې د دغه شان څرګندو ظلمونو د مخنیوي په هکله د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله (۸۳ج۱) ګڼه، ۲۷/ ۴/ ۱۴۴۳هـ ق فرمان صادر شوی، چې داسې صراحت لري:

د اسلامي امارت مشرتابه مقام ټولو اړونده مسوولینو، علماءی کرامو او قومي مشرانو ته هدایت کوي، چې د ښځو د لاندینیو حقونو د تحقق په خاطر جدي اقدامات وکړي:

۱ ـ د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضایت ضروري دی (چې نکاح له کف سره وي، د فتنې او فساد خطر به هم نه وي)، هېڅوک یې په جبر او اکراه پر نکاح کولو نه شي مجبورولای.

۲ ـ ښځه مال نه؛ بلکې اصیل انسان دی، هیڅوک یې چاته د صلحې په بدل (بدو) کې نه شي ورکولای.

۳ـ د میړه تر وفات وروسته چې شرعي عدت یې تېر شي، کونډه نه لیور ځان ته په زور نکاح کولای شي او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده (چې د کف اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په پام کې نیول شوی وي).
۴ـ له نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی.
۵ـ ښځه د میړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې د میراث حق او ثابت سهم لري، په فرضیت یا عصبیت سره هېڅوک یې د خپل حق څخه نه شي بې برخې کولای.
۶ـ کوم څوک چې متعدد ودونه لري، مکلف دي، چې ټولو ښځو ته له شرعي حکم سره سم حقونه ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي (د اسلامی امارت عدلیې وزارت، ۱۴۴۳هـ ق).
لاندې اداري او وزارتونه دې په ځانګړي ډول په خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي:
۱ـ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته حکم دی، چې د ښځو د حقونو اړوند د هدایاتو په هکله علماءی کرام او خطیبان وهڅوي، ترڅو د خپلو خطبو او موعظو له لارې خلک پوه کړي، چې له ښځو سره ظلم کول او د هغوی د حقونو نه ورکول د الله تعالی د نارضایتی او د هغه د عذاب او قهر سبب ګرځي.
۲ـ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې هم د خپلو وسایلو له لارې د ښځو د حقونو اړوند ترغیبي او ترهیبي ګټور مطالب په تحریري او صوتي بڼه په دوامداره توګه نشر ته وسپاري، د ګټورو رسالو تکثیر او اشاعت ته دې د فن او استعداد خاوندان هڅوي، تر ممکنه حده دې ځینې مهمې لنډې رسالې له خپلو وسایلو څخه په استفاده چاپوي، ترڅو د ښځو د شرعي حقونو په هکله د علماءی کرامو توجه جلب، پوهاوی عام او د روان ظلم مخنیوی اسانه شي.
۳ـ د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محکمو ته هدایت صادر کړي، څو د ښځو خصوصاً د کونډو د حقونو او پر هغوی د ظلمونو اړوند عریضې یې په اصولي ډول واخلي او په هکله یې غفلت ونه کړي، ترڅو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولو په برخه کې له مایوسی سره مخ نه شي.
۴ـ والیان او ولسوالان دې د یادو وزارتونو او سترې محکمې سره د فرمان د تطبیق په برخه کې هراړخیزه همکاري وکړي (د اسلامی امارت عدلیې وزارت، ۱۴۴۳هـ ق).

**پایله**

ښځه د بشري ټولنې یو داسې جز دی، چې له حق او حقوقو څخه یې سترګې نه شي پټېدلای. د اسلامي په مبارک دین کې ښځو ته خورا زیات او پرځای حقوق ورکړل شوي دي، چې دغه حقوق د ښځو د حیثیت مطابق په جلا جلا برخو کې روښانه او څرګند دي. لکه یو ښځه د څلورو حیثیتونو څښتنه ده، یا مور ده، یا خور، یا مېرمن او یا لور. د دغه هر حیثیت لپاره په اسلامي شریعت کې د ښځو لپاره ځانګړې لارښوونې په ډاګه شوې دي.
د لور لپاره اسلامي شریعت د هغې د ښې روزنې او پالنې جدي سپارښتنه کړې ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو مبارکو ویناوو کې د دوو لورګانو څښتنې مور او پلار ته د جنت زېری ورکړی دی.

دغه راز د مېرمنې لپاره په اسلامي شریعت کې خورا زیات ځانګړي حقوق په نظر کې نیول شوي دي. لکه د مهر حق، د نفقې حق، د استوګنې د هوسا ځای حق او داسې نور حقونه. همدارنګه د بنې او دویمې ښځې یا د نورو ښځو په شتون کې د مېرمنو ترمنځ د عدالت په نظر کې نیول هم د مېرمنو له حقوقو څخه ګڼل کېږي.

خور هم د ښځېتوب یو حیثیت دی. په اسلامي شریعت کې د خور لپاره هم ځانګړي حقوق په نظر کې نیول شوي دي. په دغو ټولو حیثیتونو کې یو ځانګړی او د لوړ مقام حیثیت د مورتوب حق دی، چې الله تعالی له مور او پلار سره نېک چلند تر عباداتو وروسته په جدي اوامرو کې ځای کړی دی. همدارنګه د مور لپاره تر ټولو ستر ویاړ دا دی، چې جنت یې د مور تر پښو لاندې ګرځولی دی، د دې دا معنا ده، چې د مور خدمت یوازینی مورد دی، چې د جنت ګټلو سبب ګرځېدای شي.

سره له دې د ښځو لپاره د رایې او د هغوی له خوا په قانون جوړونه کې د ونډې اخیستو حق هم اسلام د پام وړ ګرځولی دی. بل خوا په ټولنه کې هغه ناسم رواجونه هم د غندنې وړ ګرځول شوي، چې د اسلامي شریعت له اوامرو سره په ټکر کې دي، لکه په بدو کې د نجونو ورکول، د نجونو لوړ ولور او د خوابنې او د خسر د کورنۍ له خوا پر ښځو نور ظلمونه. دغه راز د اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله د اصلاحي فرمان هغه نکات هم راوړل شوي، چې د ښځو په اړه پکې اړوندو ارګانونو ته د جدي سپارښتنې یادونه شوې ده.

**وړاندیزونه**

په اسلامي شریعت کې د ښځو د حقوقو د څېړنې پر مهال بنده یو څه اړتیاوې درک کړې دي، هیله ده، چې اړوندو اشخاصو او ذیصلاح ارګانونو ته ورسېږي او غور پرې وکړي.

۱ـ په ټوله کې د افغانستان اسلامی امارت او بیا په خاص ډول د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندیز کوم، چې د هیواد د ټولو پوهنتونونو کتابتونونه په اسلامي په تېره د ښځو د حقوقو په اړه د اسلامي شریعت د احکامو پر اثارو غني کړي.

۲ـ د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو زده‌کړیالان دې د خپلو علمي سویو د لوړاوي په خاطر د قوانینو او اسلامي شریعت په پرتله او مقارنه کار وکړي.

۳: دا چې فعلاً د اسلامی امارت نظام د ښځو د حقوقو په اړه د نړیوالو سره په مقابله کې دی، نو زما وړاندیز دا دی، چې د اسلامي امارت نظام دې د ښځو د حقوقو په اړه د اسلامی شریعت په رڼا کې عامه پوهاوی خپور کړي، ترڅو د خلکو او نړیوالو ذهنونه د اسلامي شریعت له مخې د ښځو د حقوقو په اړه روښانه شي.

۴ـ دغه راز د فقې ډېر کتابونه چې لیکل شوي، اکثره یې په عربي ژبه دي، له مجربو او په عربي ژبې حاکمو استادانو څخه تقاضا کوو، چې د پښتو ژبې د غني کیدو لپاره دې د عربي ژبې کتابونه پښتو ته وژباړي.

۵ ـ د اسلامي امارت نظام ته وړاندیز کوم، چې د شریعت او قانون په چوکاټ کی دې د ښځو حقه حقوق هغوی ته ورکړي، ترڅو ښځې له خپلو شرعي او قانوني حقوقو څخه برخمنې شي.

## مأخذونه

### قرآنکریم

اسماعيل بن عمرو. (۱۴۱۹هـ ق). تفسير القرآن العظيم (ابن كثير). چاپ اول. ناشر: دار الكتب العلميه، بيروت.

تهانوی، محمد اشرف علي. (۱۹۸۷م). احكام القران. جلد ۵. خپرندويه ټولنه: ادارة القران و العلوم الاسلامية.

خالد، دوکتور عمرو. (۲۰۲۱م). د ښځې مقام په اسلام کې. خپرندويه ټولنه: صادق امرخيل. پشاور پاکستان.

د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله. (۱۴۱۴هـ ق). کابلی تفسير. جلد ۱. د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قران کريم د طباعت لپاره.

د عدليې وزارت رسمي جريده. (۱۴۴۴هـ ق). د افغانستان اسلامي امارت د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله فرمانونه، حکمونه او لارښونې. پر له پسې نمبر (۱۴۳۲).

دادگر، عبدالهادي. (۱۳۹۲هـ ش). حقوق زن در اديان مختلف. خپرندويه ټولنه: مشغل کتاب فروشی. کابل. افغانستان.

الدار القطنی، ابوالحسن. (۳۸۵هـ). سنن الدار القطنی. نشر: بغداد. العراق.

الذهبي، شمس الدين. (۱۹۸۵م). سير أعلام النبلاّ. ژباړه: شعيب الانور، چاپ ۱، خپرندويه ټولنه: موسسه الرساله. بيروت.

رحمتی، صفت الله.(۲۰۱۱م). په اسلامي ټولنه کې د ښځو د حقوقو او ارزښتونو ساتنه. نشر.بينوا خپرندويه ټولنه. کابل. افغانستان.

رحيمزی، حسام الدين. (۱۳۹۳هـ ش). د ميراث حقوق د اسلامي فقهې او د افغانستان د مدني قانون له انده. خپرندويه ټولنه: مومند خبرندويه ټولنه. جلال آباد. افغانستان.

سليمان بن احمد. (ت ۳۶۰هـ). المعجم الكبير. محقق: محمدی بن عبدالله. جلد۲. نشر: مكتبه ابن تيميه. القاهره.

شيراز آغا. (۱۴۳۵ هـ ق). په اسلام کې د ښځو حيثيت. چاپ: لومړی. خپرندويه ټولنه: ميهن ناصر باغ. پشاور. پاکستان.

صاحبزاده، جمال. (۱۳۹۸هـ ش). ښځه او ټولنيزه خپلواکي. خپرندويه ټولنه: جمال خپرندويه ټولنه، پشاور. پاکستان.

عارفی، محفوظ الله. (۱۳۹۹هـ ش). اصول محاکمات مدنی. چاپ۲. خپرندویه ټولنه: یار خپرندویه ټولنه. جلال آباد. افغانستان.

العسقلاني، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد. (۱۴۱۵هـ). الإصابة في تميز الصحابة. جلد۸. نشر: دار الكتب العلمية. بيروت.

غبار، میر غلام محمد. (۱۳۹۰هـ ش). افغانستان در مسیر تاریخ. ج ۳، نشر: مرکز نشراتي میوند، کابل.

فضلی، نجم الرحمن.(۲۰۱۵م).سیرت محمد رسول الله.خپرندویه ټوله:الفضل خپرندویه ټولنه.کابل. افغانستان.

القرنی،عائض بن عبدالله.(۱۳۹۲هـ ش). پر نقوآ ولاړه کورنی. ژباړه. جعفر.هاند. خپرندویه ټولنه: ختیځ خپرندویه ټولنه. جلال آباد. افغانستان.

کاظم، سید عبدالله.(۲۰۰۵م). زنان افغان زیر فشار عنعنه و تجدد. نشر: کلیفورنیا.

مارسډن، پیټر.(۱۳۸۹هـ ش). جنگ، مذهب و نظام جدید در افغانستان. ژباړه: کاظم. فیروزمند. نشر: تهران مرکز. تهران.

المرغیناني، برهان الدین، علی ابن بکر.(۱۳۰۴هـ ش). الهدایه. جلد:۱، نشر: مکتبه الحقانیه. پشاور. پاکستان.

مومند، نصیرالله. (۱۳۹۸هـ ش). مسلمانه ښځه مظلومه نه ده، نېکمرغه ده. خپرندویه ټولنه: استقلال. پېښور پاکستان.

نایک، ډاکټر ذاکر.(۱۳۸۷هـ ش). مسلمانه ښځه بد مرغه نه ده نیک مرغه ده. ژباړه: امان الله. امانی.خپرندویه ټولنه: میهن ناصر باغ. پشاور. پاکستان.

النسائي، الإمام أبي عبد الرحمن أحمد بن شعيب.(۲۰۱۱م). السنن الكبرى لنسائي. جلد.٦. نشر. مؤسسة الرسالة.

نور محمدي، غلام رضا.(۱۳۸۹هـ ش). نفی خشونت علیه زنان له نگاه علم و دین. نشر:مرکز امو زنان و خانواده. تهران.

النووی، یحیی بن شرف الدین.(۱۳۷۱هـ ش). شرح الاربعین النوویه في الاحادیث الصحیحه النبوی. نشر: مطبعه الاستقامه بالقاهر.

نیشابوری، مسلم بن حجاج.(۱۳۴۳هـ ق). صحیح مسلم: ۱۱۱۴/۲؛ مسند أحمد حنبل: ۵٦۳/۷؛ طبقات إبن سعد.

# Women's Rights in Islamic Sharia

Senior Teaching Assistant Pasoon Miakhil, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Department of Law, Khost - Afghanistan.
Email: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

## Abstract

It can be stated that Islam has recognized the rights of every human being to whom the term "human" applies. In particular, the Quran dedicates a specific chapter, Surah An-Nisa, to addressing women's rights. Islam acknowledges the status and position of women at a remarkably high level, granting them significant spiritual and social rights. These rights include the right to education, civil rights, political rights, the right to vote, freedom, and various other entitlements.

The significance of this research lies in its clarification of women's rights in the light of Islamic Sharia texts. It provides a comprehensive analysis of all aspects of women's rights, illustrating each right granted to women through examples from the early Islamic era. Additionally, the study examines the social status of women by discussing their rights as sisters, daughters, mothers, and wives.

This research has been conducted with several objectives in mind, including enhancing awareness of women's rights in Islamic Sharia, understanding the specific rights granted to women in various aspects of life, and providing insights into inheritance and commercial rights from an Islamic perspective.

Every research study follows a particular methodology. For this study, a library-based and explanatory method has been adopted. Moreover, the language of the research is standardized, adhering to all academic writing principles. The APA referencing system has been used, and a comprehensive list of sources is provided at the end of the study.

**Keywords:** Women's Sharia Rights, Women's Social Rights, Women's Political Rights, Women's Current Status, Government Initiatives.